AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۵/۰۸/۱۵

# سیاسي او تأریخي
# د افغانستان بایوګرافیکي
# قاموس
(۶۷ برخه)

**سید جعفر پاچا** یا **جعفر علي خان**

د سید حسام الدین پاچا زوی او د کونړ د سید محمود پاچا ورارهٔ. په ۱۹۰۶ز کال کې کابل ته راوغوښتل سو او د کال د ۴۰۰۰ روپیو مستمري ورکړل سوه او ورته لاربښونه وسوه چې خپله کورنی دې له بخار څخه راوغواړي او په کابل کې دې دایمي استوګنه غوره کړي. په ۱۹۱۳ز کال کې د نورستان حاکم مقرر سو او مرکز ئـې په پارون کې وو. په ۱۹۱۳ز کال کې دی د کونړ یو له ډېرو متنفذو سیدانو څخه وو. ورور ئـې سید عبدالعزیز پاچا رساله دار، جګړن، د پینځم سپارهٔ څواک، د هندوستان د وایسرای یاور وو.

**میر سید عبدالله**

د بي بي حلیمي ورارهٔ او د شیردل خان خسر. د امیر حبیب الله په «شاهي ګاله» [1] کې رساله دار وو خو د ۱۹۰۶ز کال په مني کې ددهٔ د کال د ۳۰۰۰ روپیو مستمري د امیر له پلوه ضبط سوه. له همدې کبله دی هندوستان ته وتښتېد.

**سید محمد اسمعیل**

د هرات د سید عبدالرحمن زوی. د ۱۹۰۸ز کال د مارچ په میاشت کې کابل ته له قسطنطنیې څخه ستون سو. په ۱۹۱۳ز کال کې په کابل کې وو.

**سید محمد پاچا**

بریګېډیر(غـُنډ مشر). د کونړ د مرحوم سید محمود پاچا زوی. دی په ۱۹۱۲ز کال کې په جلال آباد کې د ډګروال په توګه مقرر سو. د ۱۹۱۷ز کال د جنورئ په میاشت کې ئـې د ډګروالی له رتبې څخه چې په جلال آباد کې ئـې د لومړي پلټن بولنډویي کوله د بریګېډییر رتبې ته ارتقاء وکړه او په «کاهي» [2] کې د ګارنیزیون د بولندوی په توګه مقرر سو.

[1] - Shahi Gala
[2] - Kahi


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

## سيد قاسم

د کابلي سيد، احمد شاه کاهان [3] زوی. د ۱۹۲۱ز کال د ډسمبر په مياشت کې چې د باندنيو چارو د وزارت له لوري لندن ته د يوۀ پيام د وړلو لپاره لېږل کېدۀ د خيبر له لارې پېښور ته لاړ. دی د محمود طرزي زوم دئ چې د عزيزې په نوم د هغۀ له لور سره ئې وادۀ کړی دئ. په ۱۹۲۴ز کال کې په لندن کې د افغان ډيپلوماتيک استازيتوب غړی. په ۱۹۲۴ز کال کې ئې د عبدالحی د تګ او د شجاع الدوله تر راتګ پورې د شارژدافير په توګه کار وکړ. د ۱۹۲۵ز کال د مې په مياشت کې کابل ته راستون سو او ۱۹۲۶ز د فبرورۍ په مياشت کې د باندنيو چارو په وزارت کې د روسيې او ترکستان د چارو د څانګې د مرستيال سکرتر په توګه د حفيظ الله پر ځای مقرر سو. د ۱۹۲۶ز کال د اکتوبر په مياشت کې په دلهي کې د افغان جنرال قنسل په توګه مقرر سو چې د حاجي محمد اکبر ځای ئې ونيوۀ او له کابله د ډلهي پر لور د ۱۹۲۶ز کال د نوامبر په ۲۰ نېټه وخوځېد. د ۱۹۲۷ز کال د جنورۍ په مياشت کې ورته د ستور لومړی درجه مډال ورکړل سو. په ۱۹۲۸ز کال کې په روم کې د مختار وزير په توګه مقرر سو. هند ته ستون سو او د ۱۹۲۹ز کال د جون په مياشت کې قسطنطنيې ته لاړ. په ۱۹۲۹ز کال کې په روم کې له اعليحضرت امان الله خان سره يو ځای سو. ورپسې ترکيې ته لاړ. په ۱۹۶۵ز کال کې په انقرې کې وفات سو. په ۱۹۱۷ز کې کورنۍ ئې لا هم په ترکيې کې ژوند کاوۀ.

## مير سيد قاسم

دی د لغمان د چهارباغ يو سيد دئ چې د ميرصاحب په نوم يادېدۀ. په الهياتو کې متبحر او ماهر وو. د **امانِ افغان** ايډيټر يا مصحح او د امير امان الله خان شخصي سکرتر وو. د نادر شاه پرمهال د معارف مرستيال وزير سو. د نادر شاه له وژل کېدلو وروسته زنداني سو. څو کاله وروسته له زندانه خوشې سو. په ۱۹۵۰ز کال کې د عدليې وزير، په ۱۹۵۵ز کال کې متقاعد سو. تر ۱۹۷۱ز کال پورې ئې په کابل کې ژوند کاوۀ. يوازينی زوی ئې سيد مسعود پوهنيار چې د پېښور قنسل وو، د قبائيلو د چارو د رياست رئيس او له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د اعتمادي د کابينې غړی وو.

## سيد شاه

نائب سالار. د غزني قزلباش. په کابل کې د سپارۀ ځواک بولندوی. د ډېرو کلونو لپاره جنرال وو خو امير عبدالرحمن خان دی په دې تور زنداني کړ چې د سردار اسحق خان پلوی وو. کله چې امير حبيب الله د سلطنت پر تخت جلوس وکړ دی ئې بېرته په خپل پخواني مقام باندې مقرر کړ. په ۱۹۰۷ز کال کې په مزارشريف کې د ځواکونو د بولندوی په توګه مقرر سو. وروسته راپور ورکړل سو چې له امير سره بېرته کابل ته راستون سوی دئ. له ۱۹۱۲ تر ۱۹۱۷ز کال پورې د ننګرهار د نائب سالار په توګه مقرر سو چې د قوماندې لمنه ئې د کونړ له درې نيولې تر لغمان او ننګرهار پورې غځېدله. د ۱۹۱۹ز کال په لومړيو کې د هزاره جاتو نائب سالار سو خو کله چې زوی ئې علي شاه رضاء [4] د ۱۹۱۹ز کال د اپريل په مياشت کې د امير حبيب الله خان په وژلو کې محکوم وپېژندل سو، دی کابل ته احضار شو.

3 - Ahmad Shah Kahan, Kabuli Sayyid

4 - Ali Shah Reza



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

## شابک خان

ځدران. بریګیډییر(غـُنډ مشر). د ځدرانو د قبیلي د رئیس ببرک خان ورور. راپورونه وايي چي د ۱۹۱۷ز کال په شاوخواوو کي د بریګیډییر په توګه مقرر او د نائب سالار محمد عمر خان تر لاس لاندي مزار شریف ته واستول سو.

**شاه آقا مجددي** : وګورئ : فضل محمود

## شاه علم

میر، د ۱۹۱۹ز کال د سپتمبر په میاشت کي د بدخشان نائب.

## شاه علي رضاء

د غزني قزلباش، ډګروال. د نائب سالار سید شاه خان زوی. د ۱۹۱۹ز کال په پسرلي کي د اردلیانو د غنډ د لومړي کنډک بولندوی وو. په لغمان کي د امیر حبیب الله د کمپ د باډیګارډانو بولندوی. د ۱۹۱۹ز کال د اپریل د میاشتي په ۱۳ نېټي په عام دربار کي دی د امیر حبیب الله په قتل محکوم او اعدام سو.

## شاه بانو

د امیر عبدالرحمن خان یوازینۍ خور. په ۱۸۸۸ز کال کي ئـي د اسحق خان له ورور، سردار عزیز خان سره واده وکړ.

## شاه بزرګ

د متون قاضي. د کندهار نورزی. راپورونه وايي چي په ۱۹۱۵ز کال کي ئـي د خوست د حاکم په غیابت کي د خوست د سرپرست حاکم دنده پر مخ بوتله. د ۱۹۱۶ز کال د جون په میاشت کي له سیماګل سره وو او ویل سوي چي دهٔ د خوست د حاکم پر ضد د هغو بریدګرو ملاتړ وکړ چي حاکم غوښتل هغه برتانوي اتباع راخلاص او بیرته ئـي خپلو مینو ته واستوي چي بریدګرو د هغوی د سر په خاطر پیسي غوښتلي. د ۱۹۱۶ز کال د آګست په میاشت کي یو ځل بیا د سرپرست حاکم په توګه مقرر سو او راپورونو ویل چي د تـنـي د قوم وګړي ئـي هڅول چي په برتانوي قلمرو باندي بریدونه وکړي. په ۱۹۱۸ز کال کي ئـي د خپلو مالیاتو په هکله جدي باقیات درلود او ورته هدایت ورکړل سو چي د یو لک روپیو په اندازي پیسي راټولي کړي. د ۱۹۱۹ز کال د مارچ په میاشت کي کله چي امیر امان الله خان د سلطنت پر تخت جلوس وکړ دی ونیول سو او په خپل کور کي زنداني سو. وروسته راخوشي سو؛ راپورونه وايي چي د ۱۹۱۹ز کال د مي په میاشت کي د خوست په جبهه کي ئـي د یو شمـېر سرتـېرو بولندویي کوله. د ۱۹۱۹ – ۱۹۲۰ زکال په اوږدو کي د برتانوي عملیاتو پر مهال له مسعود او وزیرو سره په فعالیت بوخت وو. د ۱۹۲۰ز کال د مارچ په میاشت کي د ملکي بریګیډییر(غـُنډ مشر) په توګه مقرر سو. په ۱۹۲۱ز کال کي د خوست سرپرست حاکم سو. د جبل السراج حاکم او په ۱۹۲۹ز کال کي د کابل قاضي سو. په ۱۹۳۲ز کال کي د جمعیت العلماء رئیس. په ۱۹۳۳ز کال کي د روزګان حاکمِ کلان [5].

## شاه دوله

ډګروال، په ۱۹۱۹ز کال کي ئـي په خوست کي د سپاره ځواک بولندویي وکړه. د ۱۹۱۹ز کال د مي په میاشت کي له افغان سرتـېرو سره په وزیرستان کي وو. د افغان سرتـېرو په وتلو سره په وانه کي د افغان وسله وال ځواک له ۵۰ تنو

[5] - Hakim-i-Kalan, Uruzgan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

سرتېرو او ۲ غرنيو توپونو سره پاتي سو. د وزيرو او مسعودو په څخولو کي ډېر فعال وو چي د برتانيي ددولت تر واکمنی لاندي ژوند ونـهٔ کړي. په پای کي د ۱۹۲۰ز کال د جنوری په مياشت کي له خپلو دوه وو غرنيو توپونو سره د مسعودو له هغو لښکريانو سره يو ځای سو چي د برتانوي ځواکونو پر ضد ئي په «ټانک اعظم» [6] کي فعاليت کاوهٔ. خپل ځان ئي د «وزيرستان د دفاع وزير» جوړ کړی وو او واکمن ئي حاجي عبدالرزاق وو. په ۱۹۳۱ز کال کي د خوست حاکم وو.

## محمد شاه

د تګاو صافی. د نائب سالار امير محمد خان ناسکه ورور. له ۱۸۹۰ز کال راهيسي د آقچي حاکم. د ۱۹۰۸ز کال د اپريل په مياشت کي له حج څخه راستون سو. ډېره ئي سپينه وه خو پياوړی او فعال وو. په ۱۹۱۲ز کال کي کابل ته احضار سو چي په هغي قضيي کي روغه جوړه وکړي چي پير محمد په کي ښکيل وو. په ۱۹۱۳ز کال کي د آقچي حاکم.

## محمد شاه

بارکزی، نائب شاغاسي. مخکي له دي چي امير حبيب الله پر سلطنتي تخت جلوس وکړي دی د هغـهٔ شاغاسي وو. په ۱۹۰۵ز کال کي د سردار امان الله خان د تشريفاتو رئيس. په ۱۹۰۷ز کال کي د امير حبيب الله خان عرض بيګي او هرات ته د امير د سفر مل او ملګری. په ۱۹۱۲ز کال کي په کابل کي د امير د عرض بيګی په توګه استخدام سو.

## محمد شاه خان

هوتک، په ۱۸۵۱ز کال کي زېږېدلی دئ، د مير افضل خان زوی. ويل سوي چي د ۱۸۸۰ز کال د اپريل په مياشت کي په حصارک کي له معاذ الله خان وروروسته دوهم مهم قومي مشر وو. د ۱۸۸۰ز کال د مي په مياشت کي برتانوي مقاماتو ته تسليم سو او ژمنه ئي وکړه چي ددهٔ له سيمي څخه د تېرې سوې لارې بشپړ امنيت به ساتي. خو نوموړي له مخالفي ډلي سره راکړه ورکړه درلوده او له سردار محمدهاشم خان سره يو ځای سو، څو موده وروسته ئي هغه هم پرېښود او د سردار عبدالرحمن خان خدمت ته راغی. په ۱۸۸۰ز کال کي دی د امير عبدالرحمن خان پر ضد د هوتک ياغيانو مشر وو. د ۱۸۸۷ز کال د جنوری د مياشتي يو راپور وايي چي : «محمد شاه خان ټول هغه ليکل سوي قرار دادونه "سرهنګ سکندر خان اورکزي" [7] ته ولېږل چي د غلزيو د بغاوت پر مهال ددهٔ او د هوتکو د قبيلي له ملکانو سره تر سره سوي ول او وايي چي هوتک ملکان چي په تسليمی اقرار کوي ددغو ټولو ستونزو عاملين ول خو اوس دی ملامت ګڼي.» همدا ليکوال د ۱۸۸۷ز کال د اپريل د مياشتي په ۲۲ نېټي ليکي چي محمدشاه خان خپل ځواکونه ځای پر ځای کړل او طبيعي خبره ده چي دی ددغو ځواکونو بولندوی وو او همدغو ځواکونو ډګروال غلام حسن خان ته ماتي ورکړې وه او ويل کېږي چي په "اته ګره" [8] کي ئي سکندر خان ته ماتي ورکړې ده. ويل سوي چي د ۱۸۸۷ز کال د مي په مياشت کي دی د ياغيانو د مشر په توګه ياد سوی؛ راپورونه وايي چي د ناصرو سيمي ته تللی چي له هغـهٔ ځايه ماليات راوړي او ټينګ اوامر ئي صادر کړي چي ددهٔ تر راتګ پوري دي د امير پر سرتېرو څوک بريد ونـهٔ کړي. ورپسي بل راپور وايي چي د قبيلي ټولو غړو چي شمېر ئي ديرش زرو تـنو ته رسېدهٔ محمد شاه خان ئي د امير په لقب د خپل مشر په توګه کانديد

---

[6] - Tank **Zam**

[7] - Sarhang Sikander Khan Orakzai

[8] - Atagarh



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

کړی دئ. دی د هوتکو د خان خیلو د څانګي استازی وو چې د میرویس «نیکهٔ -ژ» له مستقیم پښت څخه دئ، دا څانګه په فارس کې د غلجیو د لومړی سلطنتي کورنی بنسټ اېښودونکي ده او باور دا دئ چې ددهٔ کاندید کېدل به غلجیان سره یو موټي او متحد کړي او دا به غلجیو ته یو پېژندل سوی مشر په لاس ورکړي چې نبستاً میراثي لقب لري او هم به درانیان سره یو ځای کړي، همدا شان دا کار به درانیان ددوی پر ضد متحد کړي ترڅو له خپل ۱۵۰ کلن برلاسي څخه دفاع وکړي. ویل سوي چې امیر عبدالرحمن خان، محمد شا خان، عبدالکریم او شیرجان په هغې عمومي عفوې کې نهٔ دي بخښلي چې د ۱۸۸۷ز کال په پای کې اعلان سوه او دوی ورځخه مستثنی ګرځول سوي دي. ددهٔ زوی احمد شاه د ۱۸۸۷ز کال د ډسمبر یا د ۱۸۸۸ز کال د جنوری په میاشت کې اعدام سو.

## محمد شاه خان

جبارخیل غلزی. د حصارک ملک. د خپل خپلوان عصمت الله خان غلزی ځایناستی سو او د حصارک خاني ور ورسېدله. په ۱۸۸۶ز کال کې له خپلې کورنی سره یو ځای د هغو غرونو له لاري وتښتېد چې د کورم او منګلو په سیمې کې غځېدلي دي او له همدې ځایه ئې کولی سوای چې د غزني له بغاوت سره یو ځای سي. ددهٔ خور د «امیر دوست محمد خان زوی» وزیر اکبر خان ته وادهٔ سوې وه او د وزیر اکبر خان زوی سردار فتح محمد خان په هرات کې د سردار یعقوب خان له پلوه ووژل سو. د سردار فتح محمد خان زوی سردار سلطان محمد خان په راولپنډی کې وو «ددهٔ مور هم د غلزیو جبارخیلو یوه جبارخیلی وه.» د ۱۸۸۶ز کال د ډسمبر د میاشتې په ۴ نېټې امیر عبدالرحمن خان د هندوستان په دولت کې د امیر استازي ته ولیکل : «محمد شاه خان له خپلې کورنی سره یو ځای له حصارک څخه په کورم کې پیوار ته تښتېدلی دئ او د توري معاذالله خان په کور کې ئې استوګنه غوره کړې ده... دی به د توریو له لاري له هر ډول شرارت او فتني څخه چې له وسعي ئې کېږي کار واخلي.» دلته د یادوني وړ ټکی دا دئ چې توریان مستقل ول او د دوی استقلالیت د هندوستان د برتانوي دولت له خوا تضمین سوی وو، او ویل سوي ول چې دا سیمه د امیر له سیمې سره متصله ده او امیر عبدالرحمن خان په لاینقطع ډول د هغوی له چارچلند څخه شکایت درلود. د ۱۸۸۷ز کال د جنوری په میاشت کې راپور ورکړل سو چې محمد شاه خان د وزیرو د پارولو هڅه کوله او د امیر عبدالرحمن خان ستر درستیز دهٔ ته لیکونه لېږل او بلنه ئې ورکوله چې کابل ته راسي او پر خپلو او جایدادونو دې خپل ژوند ژواک ته دوام ورکړي. محمد شاه خان په ځواب کې ورته وویل : «زه ستاسو پر کړو وړو او خبرو اعتماد نهٔ لرم.» په پای کې د ۱۸۸۷ز کال د مارچ په میاشت کې محمد شاه خان له خپلې ټولې کورنی او پیروانو سره د «پاړه څمکنیو» [9] خپلواکي سیمې ته کډه سو.

## محمد شاه خان

مهمند، د سلطان محمد خان زوی. په ۱۸۷۱ز کال کې د سلطان محمد خان په مړیني سره امیر شیرعلیخان، محمد شاه خان د لالپورې د رئیس په توګه مقرر کړ، خو له دې چې نوموړی ډېر ځوان او غیر متجرب وو دی ئې په بل کال له دې مقام څخه لېرې کړ او پر ځای ئې نوروز خان مقرر کړ. په ۱۸۷۶ز کال کې محمد شاه خان او ورورو ئې عبدالعزیز خان دواړه د لالپورې مشران مقرر سول. یعقوب خان دی په ۱۸۷۹ز کال کې د لالپورې له خانی څخه برطرف کړ. د

---

[9] - Para Chakmani


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

محمد شاه خان مېرمن د امير عبدالرحمن خان د مېرمني خور وه، او دی په ۱۸۸۰ز کال کي له خپل باجه سره یوځای سوی وو او امير ددۀ جاګيرداري په ننګرهار کي تصديق کړي وه. وګورئ صادق خان او اکبر خان.

## نور بيا

### شاه محمود خان

د غازي، جنګيالي او همدا شان د سپه سالار په لقب شهرت لري. سردار او...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ